۲. ټولو ته د کافي استوګنې (مسکن) تامین؛ او
۳. د ښاري اقتصاد انسجام.

## د بشر د مېشته کېدلو شرایط

د تېرې لسیزې په اوږدو کې افغانستان تقریباً د ښاري نفوس د دوه برابره کېدو شاهد و چې د هېواد پر پراختیا یې ژور اغېز ښندلی دی . په ښار کې اوسېدل له یوې خوا د ټولنیزې پراختیا او اقتصادي ودې لپاره فرصتونه رامنځته کوي[۱۳]؛ خو له بلې خوا د یوه خوندي او سالم چاپېریال لپاره د ودې په حال کې نفوس او ښاري ځواکانو د غوښتنو پوره کول چې په هغه کې ژوند او کار وکړي د تصمیم نیونکو پر وړاندې یې لویې ننګونې رامنځته کړې دي. د دغو ننګونو له جملې څخه یو هم دیموګرافي ده: اته میلیونه یا هم له دې څخه زیات افغانان چې اوس مهال په ښارونو کې ژوند کوي،[۱۴] د نفوس طبیعي ودې او له کلي څخه ښار ته د مهاجرت په پام کې نیولو سره[۱۵]، په راتلونکې لسیزې

۹. په ښاري سیمو کې د فقر له ۲۹٪ کچې سره. د خطرونو او زیانونو ملي بررسي، COS/نړیوال بانک، ۲۰۰۸/۲۰۰۷ زکال.
۱۰. Ibid، نړیوال بانک ۲۰۱۳ ز کال.
۱۱. د افغانستان د بشري ودې رپوټ، UNDP، ۲۰۱۱ زکال.
۱۲. په ۲۰۱۲ ز کال کې له ۱۴.۴٪ څخه، وړاندوینه شوې چې په ۲۰۱۳ کال کې وده ۳.۱٪ ته ټیټېږي. د سوېلي اسیا اقتصادي ټولنه، نړیوال بانک، ۲۰۱۳ زکال.
۱۳. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (۲۰۱۵ زېږدي) د افغانستان د ښارونو وضعیت، ۲۰۱۵ زېږدي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت: کابل.
۱۴. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (۲۰۱۵ زېږدي) د افغانستان د ښارونو وضعیت، ۲۰۱۵ زېږدي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت: کابل.




لومړی شکل: په افغانستان کې د ښارمیشتېدو بېلګې

کې هر کال به له ۳۲۰۰۰۰ نورو وګړو سره یوځای شي.[۱۶]

اټکل شوی چې د هېواد پلازمینه؛ یعنې کابل اوس مهال شاوخوا درې میلیونه نفوس لري چې د ټولو ۳۴ ولایتونو ۴۰% ښاري نفوس تشکیلوي.[۱۷] ښارونه «سیمه اییز مرکزونه» ټول شاوخوا ۳۰۰۰۰۰ یا له دې ځخه زیات نفوس لري،هرات ۶۷۳۴۲۵؛ مزار شریف ۵۸۲۱۱۳؛ کندهار ۴۶۴۲۶۵؛ او جلال اباد ۲۹۶۸۹۵. په مجموعي توګه دغه پنځه لوی ښارونه د افغانستان د ۳۴ ولایتونو په کچه د ښاري نفوس ۶۹% تشکیلوي.

«د سوداګرۍ او ترانزیت مرکزونه» له ۱۱۹۰۰۰ ځخه تر ۲۳۱۰۰۰ پورې نفوس لري چې د لویو ښارونو له جملې ځخه لښکرګاه: ۲۳۰۳۱۸؛ کندز: ۲۲۴۰۷۸؛ پلخمري: ۱۸۴۳۹۵ د یام وړ دي. «د ولایتونو مرکزونه» کم نفوس لري. د بېلګې په توګه، خوست: ۸۸۴۰۳؛ چاریکار: ۸۰۰۳۳؛ بامیان: ۳۳۲۶۳؛ او فراه: ۳۹۷۴۳. تر ټولو کچونیو ښارونو یا «ښاري کلیو» نفوس، نیلي: ۱۴۹۵۵؛ پل علم: ۱۹۰۹۵؛ او پارون ۱۳۷۳ دي (لومړی شکل).[۱۸]

د افغانستان د ښارونو د اوسنیو ستونزو سرچینې تېر پورې تړاو لري. په ۱۹۸۰ زېږدیز لیسیزه کې هغو کسانو ته په کلیو کې د شخړو له امله بې‌ځایه شوي و په فوق العاده سب سایډی سره یو ډول غیرطبیعي وده وشوه. یو مهال د کلیو

په کچه شخړې د ځاني تلفاتو او د ښارونو مرکزونو[۱۹] ته د زیان رسېدو لامل شو، په ورته وخت کې د مسلکي او پوهو افغانانو د تېښتې له امله اورګانونه کمزوري شول.[۲۰]

له ۲۰۰۲ زکال ځخه راپدېخوا له بهر ځخه د بېرته را ستنو شویو افغانانو د پام وړ برخه د ښارونو په مرکزونو کې چې له کلي ځخه ښار ته د بې‌ځایه شویو کسانو راتګ یې تجربه کړی و، د زیات امنیت، د ژوند کیفیت ښه‌والي او د معیشت ترلاسه کولو، را ټول شول. خو د نړیوالې ټولنې د حضور په کموالي سره احتمالا په عامه خدماتو او زیربناوو کې پانګه اچونه او کاري فرصتونه[۲۱] تر هغه بریده کم شوي چې د ښاري ژوند باالقوه فرصتونه تر ډېره بریده افغانان؛ په ځانګړي توګه بې‌وزله کسان په ښار کې له اوسېدو ځخه منصرف کړي.
په داسې حال کې چې د نړیوالې ټولنې له مرستو ځخه یوه لسیزه وروسته د افغانستان په هرو درېیو کورنیو کې یوه له هغوی یې په فقر کې ژوند کوي،[۲۲] په ښار کې مېشتېدل نه دي توانېدلي چې تل پاتې پایلې وړاندې کړي.[۲۳] په ډېری ښارونو کې د پام وړ اقتصادي او مادي ټوپیرونه موجود دي.

دغه چار د مرکزي زونونو «امنیت» ( چې د ساتل شویو محدودو سربېره د خصوصي سوداګرۍ د پانګونې ډېره بریده جلب کړې ده)[۲۴] او په پاشلې توګه د ښار ځنډو سیمو چې په کمه کچه یې وده کړې ده او همدا اوس یې ښاري سیمې احاطه کړې ترمنځ توپیر ځرګند کړی دی. په داسې حال کې چې په وروستیو کې د ښاري پراختیا ډېره بریده په «غیررسمي»[۲۵] توګه دی، د کور جوړونې او سوداګریزو ملکیتونو په برخه کې د کوچنیو پانګونو ارزښت لوړ د پام وړ دی.[۲۶] په ځینو سیمو کې د هوساینې له علامې سربېره، له ګڼه‌ګوڼې ډکو سیمو او کرایي ملکیتونو کې چې لومړني ابتدایي او زیربنایي خدمات[۲۷] په محدوده توګه وړاندې کوي د ټیټې طبقې ښاري کېدونکو کسانو

۱۵. په اسیا کې د ښاري نفوس د ودې لوړ ترین نرخ. نړیوال بانک ۲۰۱۱ زېږدیز.
۱۶. له دې ډلې ځخه ۱۶۵۰۰۰ نفوس د طبیعي ودې په خاطر. د ملګرو ملتونو هېیتات ۲۰۱۲ زېږدیز.
۱۷. د احصایې مرکزي اداره (۲۰۱۳ زېږدېز) د کابل ښار نفوس ۳.۴ میلیونه اټکل کړی دی، په داسې حال کې چې JICA (۲۰۱۰ زېږدیز) کې ماستر پلان د ۴.۵ میلیونه اوسېدونکو لپاره وړاندیز کړی.
۱۸. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (۲۰۱۵ زېږدي) د افغانستان د ښارونو وضعیت ۲۰۱۵ زېږدي، د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، کابل.
۱۹. د بېلګې په ډول هرات په ۱۹۷۸ زېږدیز کال کې او کابل په ۱۹۹۳ / ۱۹۹۴ زېږدیز کال کې
۲۰. د راستنېدونکو شمېر په ۲۰۰۲ ځخه تر ۲۰۰۶ زېږدیز پورې زیات وو، خو له هغه وروسته په کې کموالی راغی. د افغانستان لپاره نړیوال رپوټ ۲۰۱۰ زېږدیز.
۲۱. په اوسني وخت کې دوه میلیونه ښاري اوسېدونکي وزګار دي. NRVA ۲۰۰۷/۲۰۰۸ زېږدیز.
۲۲. NRVA ۲۰۰۷/۲۰۰۸ زېږدیز.
۲۳. ۹۳.۳ سلنه ښاري مېشتي( په مادي او محیطي محرومیطي شرایطو کې) ژوند کوي. NRVA نړیوال بانک ۲۰۱۰ زېږدیز.
۲۴. له ۲۰۰ زیات ښارګوټي، په مزار، هرات، جلال اباد، غزني او پروان کې شته. ارازي ۲۰۱۱ زېږدیز.
۲۵. پرمختګ چې له ښاري ماستر پلان سره مطابقت ونه لري، په رسیمي ډول (غیر رسمي) پېژندل کېږي.
۲۶. د یوې نا رسمي مطالعې له مخې په کابل کې د مېشتېدونکو اټکل کابو ۲.۵ میلیارده ډالر دی. نړیوال بانک ۲۰۰۵ زېږدیز.

په داسې یوه هېواد کې چې تر ډېره بریده نفوس یې کلیوالي دی، دا تصور چې تر ۲۰۵۰ زېږدي کال پورې له هرو دوو افغانانو څخه یو هغه به یې په یوه ښاري مرکز کې ژوند وکړي؛[۳۹] د هغه بدلون ماهیت په ډاګه کوي چې اوس‌مهال په جریان کې دی (لومړی شکل) ۶ مخ




دویم شکل: د افغانستان د ۳۴ ولایتونو د مرکزونو ملي جغرافیایي جوړښت

۳۹. نړیوال ښار میشتی لیدلوری، UNDESA ۲۰۱۱ زېږدیز.

شمېر د زیاتوالي په حال کې دی. دغه کسان د ژوند عامه اسانتیاوو ته بشپړ لاسرسي نه لري، په ورځني مزد اتکا لري[28] او د ژوند حالت يې ترینګلی دی.

## په افغانستان کې د ملګرو ملتونو هبیتات له فعالیتونو څخه زده کړی شوي درسونه

د ملګرو ملتونو هبیتات له دوو لسیزو څخه د زیاتې مودې لپاره د نسبتآ ارام او همداراز له شخړو ډک وضعیت کې په افغانستان کې په پراخه کچه فعالیت کړی دی او ښکېله وه. د بیامیشته کېدو يو ملي پلان چې په ۱۹۹۰ ز کال کې پیل شو، په ۱۹۹۴ ز کال کې د ښاري بیاجوړونې پر پلان چې په هغه کې د بیا رغونې په هدف له سیمې له خلکو سره ګډې لارې مطالعه شو او د سیمې خلکو د ټولنې جوړېدو په ذریعه يې وده ورکړی شوه. دغه ټولنې د طالبانو واکمنۍ پر مهال د PEACE په پلان کې چې په هغه کې څو ملي اداري ښکېلې وې جذب او د سیمې پر انکشافي شوراګانو بدلې شوې چې نن ورځ د ملي پیوستون او د ښاري پراختیا مداخلاتو له اصلي پلانونو څخه شمېرل کېږي.

برسېره پر دې، د ملګرو ملتونو هبیتات چې د سیمې د خلکو په ګډون د ښاري او کلیوالي پراختیا لپاره د بیا زغونې عملیاتو پر مستقیم تطبیق کار کړی؛ د مسلکي او تخنیکي ورتیاوو تقویت او د بشرپاله مرستو وېش په برخه کې يې په پالیسی، پلان جوړونې، ښاري مدیریت، د خدماتو او زیربناوو ښه‌والی او د بېرته را ستنېدونکو ادغام برخو کې د تخنیکي مرستو برابرلو له لارې ملاتړ کړی دی.

د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د ملګرو ملتونو هبیتات د تجربو تنوع د یوه مهم درس منعکس کوونکی دی چې د تېرو دوو لسیزو په اوږدو کې زده کړی شوی دی: هغو پېچلو مسایلو ته چې ندرتآ ثابتې دي رسېدو په هدف، د مرکز، ولایتونو، ولسوالیو له چاروکو څخه بیا د سیمې تر خلکو او کورنیو پورې په اساسي او تولیزه توګه د اجراآتو ارزښت. د پالیسي جوړونې یا هم د خدماتو وړاندې کولو په برخه کې د ونډې ارزښت زموږ د کار په محراق کې ځای لري داسې چې «د خلکو په بهیر» کې د ملګرو ملتونو هبیتات چې د عمده ونډه لرونکو د ګټو او نظریاتو منعکس کوونکې ده؛ انځور شوي ده.[30] د ملګرو ملتونو هبیتات د کار په ارزونه کې د دغه تګلارې اغېز چې «د سیمې له خلکو سره قرارداد» ارزښت له بشري منابعو او شته مواد‌و څخه استفاده رانغاړي برجسته شوی دی.

د ملګرو ملتونو هبیتات ټیم په هېواد کې دا ډاډ لري چې د لاسرسي وړ دی ــ د پنځو لویو ښارونو په ګډون د ملګرو ملتونو هبیتات په ۱۱ ولایتونو کې حضور لري ــ په دوامداره توګه يې د ملت نبض احساس کړی او له دې لارې حیاتي بهرنیو یا اړتیاوو ته منابع برابرې کړې او لارښوونه يې ورته کړې ده. دغه کار د تجربه لرونکو افغانو کارمندانو په مرسته شوی دی. دوی هغو سیمو پورې تړاو لري چې تر مدیریت لاندې پروژه يې په کې عملي کېږي، د حالاتو څېړلو په هدف په سیمه کې له احتمالي خطرونو سره مخ کېږي. دغه تګلاره «موخه‌ییزه» یوه اغېزمنه ستراتیژي ثابته شوه چې په راتلونکې کې د مرکز او ولایتونو په کچه د بنسټونو پر زیاتې تقویې تمرکز سره، د ملګرو ملتونو هبیتات د عملیاتو له ځانګړتیاوو څخه به وي.

## له ۲۰۱۶ څخه تر ۲۰۱۹ پورې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو هبیتات د پروګرام ستراتیژی

د ملګرو ملتونو د بشرد میشتېدو پلان؛ د بشري میشته کېدنې لپاره د ملګرو ملتونو اداره ده. د ملګرو ملتونو عمومي غونډې لخوا دغې اداري ته دنده سپارل شوې ده، چې د بشري میشته کېدنی په اړه د وانکوور(Vancouver) اعلامیې، د هبیتات اجنډا، د بشري میشته کېدنی په اړه د استانبول اعلامیې، په نوي زریزه کې د ښارونو او د اوسېدو نورو ځایونو په اړه اعلامیه او د ملګرو ملتونو ۵۶/۲۰۶ پرېکړه پر بنسټ ټولو ته د سرپناه برابرولو په هدف له ټولنیز اړخه تلپاتې ښارګوټي او ښارونه دود او رامنځته کړي. د ملګرو ملتونو د زریزې په اعلامیه کې د نړۍ د بې‌وزله وګړو ناوړه حالت تصدیق شوی او غړیو هېوادونو ژمنه کړې چې څو لږ تر لږه د بې وزله سیمو د ۱۰۰ میلیونو وګړو ژوند ښه کړي ــ ۱۱ مقصد ۷ شمېره موخه ــ دغه دنده هبیتات ته سپارل شوې ده. دغه تعهد د «تلپاتې ودې موخې» سره چې د ۲۰۱۵ کال په سپټمبر کې منل شوی، ۱۱ موخه «د ښارونو او د انسانانو د اوسېدو د ځایونو پراختیا، خوندي، او تل پاتې کول» مخته وړل شوې دي.

## لیدلوری او ماموریت

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو هبیتات ټولنیز لیدلوری، چې هوسا، پراخ او مساوي بشري د مېشتېدلو(اسکان) برابرېدل چې د فقر د کموالي لامل شي او له ملي ثبات او انکشاف سره مرسته وکړي، رانغاړي.

د نړیوالي دندې په برخه کې د د ملګرو ملتونو هبیتات ماموریت «د ټولنیز او چاپېریال ساتنې له اړخه د باثباته اوسېدو ځایونو د پراختیا دودول او کافي سرپناه ته د ټولو لاسرسی» عبارت دی له «ځمکې، کور او ښاري خدماتو ته د لاسرسي زیاتوالي له لارې د خلکو د ژوند بدلون او په ورته وخت کې د خلکو لیدلوریو او اړتیاوو ته د اورګانونو او سیستمونو ځواب ویل» دي.

د دې لپاره چې افغانان وتوانېږي په هوسا، پراخ او مساوي توګه د اوسېدو په ځایونو کې ژوند وکړي، د فقر کموالي لپاره

۲۷. ښارمېشتي ۴۰ سلنه پاکو او خوندي اوبو ته لاس رسی نه لري او ۷۰ سلنه صحي ټټیو او تشنابونو ته لاس رسی نه لري. UNDP ۲۰۱۲ زیږدیز.

۴۴.۲۸ سلنه ښارمېشتو ورځ مزدوري د عوایدو د اصلي سرچینې په ډول یاد کړې دي. NRVA نړیوال بانک ۲۰۱۰.

۳۰. د ملګرو ملتونو هبیتات (۲۰۱۴ زیږدیز) ښاري پیوستون.دوېمه شمېره توضیحي سند،۲۰۱۴ زیږدیز.

/http://unhabitat.org/urban-solidarity-community-led-neighbourhood-upgrading-bypeople-for-people

افغانستان

فرصتونه برابر شي او په ورته وخت کې له ملي پراختیا او ثبات سره مرسته وکړي؛ د ملګرو ملتونو هبیتات تر تمرکز لاندې په دریبو برخو چې لاندې به وضاحت ورکړل شي؛ فوکس لري. د تمرکز وړ په هره برخه کې د جنډر، ځوانانو، ملي ظرفیتونو انکشاف، چاپېریال ساتنه او د افاتو د خطر کموالی مشترک مسایل د اصلي اجزاوو په توګه شامل دي.

## ۲۰۱۶ څخه تر ۲۰۱۹ پورې تر تمرکز لاندې ساحې

د بشري مېشتېدلو سکتور لپاره وړاندیز شوې تګلاره او فعالیتونه د ملي پراختیا له اړوندو موخو او همداراز د سکټور مشخص مسایل چې په تېرې برخې کې ترې یادونه وشوه، تطابق ورکړل شوی دی. د دې مسلې په پام کې نیولو سره چې جنډر، ځوانان، چاپېریال ساتنه، د کاري ظرفیتونو لوړول او د خطراتو کمښت ګډ مسایل دي؛ تر تمرکز لاندې دري ساحې په لاندې توګه پېژندل شوي دي:

## تر تمرکز لاندې ساحه ۱: پلان شوي او له ښې اداري سره مسکوني سیمې

د تلپاتې ښاري ودې او مدیریت پر وړاندې یو اساسي خنډ یوې منسجمې تګلارې نشتوالی دی چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې د ودې په حال کې ښارګوټو او ښارونو ټولنیز، مادي او اقتصادي امکاناتو بشپړ تحقق شونی کړي. په داسې حال کې چې په وروستیو کلونو کې د پالیسۍ پر اړخونو د بیاکتنې او عمل په برخه کې ځینې پرمختګونه شوي؛ د ښاري مدیریت په برخه کې اساسي او بنسټیزو مسایلو ته رسېدنه نه ده شوې.

د تېرو لسیزو په اوږدو کې په افغانستان کې ښاري حکمتوالي د پام وړ بدلونونه منلي دي. د کور او ښار جوړولو وزارت د پالیسۍ جوړولو او پراختیا، د پلان جوړونې معیارونو او تنظیموونکو چوکاټونو مسوول دی چې تجدید نظر د پام وړ تخنیکي مرستو ته اړتیا لري. د ولایتونو د ښارونو مدیریت او پلان جوړونه د سیمه ایېزو اورګانونو خپلواکې اداري د ښاروالیو چارو معینیت مسوولیت دی چې پر شفافیت او حساب ورکونې د تمرکز له لارې د ولایتونو د ښاروالیو له فعالیت څخه څارنه کوي.[31] د ملکیت د مالیاتو او ثبت او د خدماتو او زیربناوو په برخو کې د عوایدو زیاتوالي په هدف د ښاروالیو د وړتیاوو تقویت د ملګرو ملتونو هبیتات او نورو اورګانونو لهخوا تخنیکي مرسته به دوام ولري. د اصلاحاتو د بهیر بنسټیز کول او د منابعو په پام کې نیولو سره ټولو ښاروالیو ته د دغې چارې دودول؛ له مهمو کارونو څخه شمېرل کېږي.
د ملګرو ملتونو هبیتات د خپلو هڅو د یوې برخې په توګه د حکومتوالی، پلان جوړونې او ښاري مدیریت برخو کې د انسجام او د روانو اقداماتو پراختیا په هدف له خپلو نړیوالو تجربو څخه به کار واخلي. پایلې په لاندې توګه پیشبیني شوي دي.[32]

- د اوسېدو ځایونو د پالیسی یو غوره چوکاټ کې چې د پالیسی او حکومتوالی پراخو سیستمونو او همداراز په ښاري ځمکو کې پر اغېزمن مدیریت تمامیږي؛
- د عامه خدماتو په برخه، پایداره عملیاتو کې د ښاروالیو ظرفیت؛ او
- د اوسېدو ځایونو له پالیسی، پلان جوړونې او مدیریت څخه د ملاتړ لپاره د لاسرسي زیاتوالی او له معلوماتو څخه استفاده.



## تر تمرکز لاندې ساحه ۲: پراخې مسکوني سیمې

د ۱۹۹۰ له لومړیو څخه راپدېخوا په افغانستان کې د بیا رغونې او پراختیا څخه ملاتړ په برخه کې د سیمې د اوسېدونکو ښکېلول د ملګرو ملتونو هبیتات د تګلارو بنسټ دی. ده تګلاره د ملي پیوستون پروګرام په طرحه کې د ونډې اخیستلو اساس جوړوي چې په هغه کې له ۲۰۰۳ زکال څخه راپدېخوا هبیتات د یوه تسهیلوونکي شریک په توګه و. د ملي پراختیا دغه اقدام په ۹ ولایتونو کې شاوخوا ۴۶۰۰ سیمه اییز پراختیایي شوراګانو رامنځته کولو لپاره ښکېلې کړې دي چې فعالیتونه په سمه توګه پېژني او مدیریت کوي یې. د منابعو په پام کې نیولو سره، د ملګرو ملتونو هبیتات به د ملي پیوستون په پروګرام کې خپلې ونډې او همکارۍ ته دوام ورکړي او د دغه پلان ټینګښت په برخه کې به هڅې وکړي. د ښاري خدماتو او زیربناوو په برخه کې د څو لسیزو ناکافي پانګونې وروسته، له ۲۰۰۲ زکال څخه راپدېخوا په ډېری ښارونو کې دغو خدماتو ته د لاسرسي په برخه کې پرمختګ شوی دی.

له دې سره په افغانستان کې ډېری ښاري کورنی د سطحي ځاګانو/کوهیو پر اوبو اتکا لري او ۸۰٪ کورنی کافي فاضلاب

۳۱. د ۲۰۱۱ کال د ښاروالۍ مسوده د ښاروالۍ ټاکنو ته انتظار ده، څو د ښاروالۍ مشورتي موقتي بورډ له ښاروالیو څخه څار وکړي.
۳۲. رپوټونو له مخې د ښاري اوبو رسونې پوښښ د ANDS له موخو سره مطابقت لري- دا ۵۰ سلنه په کابل او ۳۰ سلنه په نورو ښارونو کې، خو WHO/ UNICEF MICS په ۲۰۱۳ کال کې په ډاګه کړې دي چې یوازې ۳۹ سلنه ښوزلې او او یو پنځمه ښار مېشتي اوبو ته لاس رسی لري.

نه لري او د ککړتیا خطر زیات دی. رسمي پالیسی د اوسېدو ځایونو لپاره خدماتو کې د عامه پانګونې څنګ له «ماستر پلان» څخه بهر دی او په دې ترتیب سره د ښاري وګړو د پام وړ برخه محروموي. په داسې حال کې د سیمې د خلکو تر مدیریت لاندې پروژې (د ملګرو ملتونو او نادولتي موسساتو په ملاتړ) د اوسېدو په ځینو غیررسمي سیمو کې خدماتو ته لاسرسی بې ښه کړی دی؛ دغه اقدامات تیت دي او په هېڅ صورت سره نه شي کولای زیاتېدونکې تقاضاوې پوره کړي.[۳۳] یوازې د اوسېدو ټولو ښاري سیمو په ادغام سره البته له دې پرته چې موقف یې په پام کې ونیول شوي او د ښاروالیو په کچه د یوې کړنلارې په رامنځته کولو سره کېدای شي چې خدماتو ته لاسرسی برابر شي.

اوس مهال افغان حکومتونو یو بل پسې ژمنې کړي چې بې وزله خلکو ته به «ارزانه» کورونه برابروي، دغې چارې ملکي مامورینو ته د سبسایډي شویو پروژو ښه خپله کړې ده. له دې امله د ښاري کور جوړونې ډېره برخه هغه شخصي کورونه تشکیلوي چې خپله یې جوړوي. د کورنیو مالي امکاناتو په پام کې نیولو سره د دغو کورونو کیفیت کې د پام وړ توپیر شته؛ خو له دودیزو توکو او شکل څخه پراخه استفاده د اقلیمي او فزیکي شرایطو پر وړاندې د اغېزمن ځواب ښکارندویي کوي. لازمه ده څو ښاري استوګنځی ته د رسېدنې پالیسی او تګلارې پر همدې بنسټ جوړې شي او ارزانه تمویل، مناسبو ساختماني توکو او د ودانۍ په اړه مشورو ته د لاسرسي اسانتیاوو په برخه کې تمرکز ولري. د رهایشي ودانیو د ودې په رڼا کې چې په ډېرو ښارونو کې د قراردادیانو لخوا جوړېږي باید داسې تدابیر طرح او تطبیق شي چې په هغو کې د فضایي، ساختماني او خدماتي معیارونو حداقل مراعات شوی وي.

په افغانستان کې په ښارونو کې د میشته کېدو بهیر یوازې لویو ښارونو پورې محدود نه دی او په وروستیو کلونو کې د اوسېدو ډېرې کوچنۍ او منځنۍ ځایونو د پام وړ پراختیا موندلې ده. له ښاروالیو د ملاتړ سربېره یوه تولیزه ملي ښاري پالیسي (او د مسکوني سیمو اړوند جغرافیایي ستراتیژي) د دغو مرکزونو د انکشاف د هدایت توان لري. په مشخصه توګه دغه ستراتیژي کولای شي د خوندي او ارزانه کورونو جوړولو، خدماتو او زیربناوو ته لاسرسي، د تخنیکي وړتیاوو پراختیا او د سیمې انکشافي اقداماتو کې ګډون، د توکو یا ساختماني اجزاوو تولید له لارې له معیشت یا د سیمې په کچه د کار موندنې په ذریعه د مسکوني سیمې پلان جوړونه پیاوړې کړي. د انکشاف، ښه‌والي او سیمه اییزو خدماتو له وړاندې کولو څخه له ترلاسه شویو تجربو په استفادې د ملګرو ملتونو هبیتات په پام کې لري څو د تمرکز وړې ساحې ۲ پر بنسټ د اوسېدو ځایونو اوسېدونکو لپاره ځمکې او کور، خدماتو او زیربناوو ته ښه لاسرسی برابر کړي او لاندې پایلې پیشبیني کوي:

- خدماتو، زیربناوو او عامه اسانتیاوو ته د لاسرسي زیاتوالی؛
- د مسکوني سیمو پراختیا او مدیریت په برخه کې د اوسېدونکو د اغېزمنې ونډې لپاره د سیمه اییزې حکمتوالۍ غوره سیستمونه؛ او
- ځمکې او ښاري کور ته لاسرسی، پر بې وزله او هغو کورنیو تمرکز له لارې چې د ښځو لخوا اداره کېږي، د کورنې بې‌ځایه شویو او بېرته راستنو شویو په ګډون.

## تر تمرکز لاندې ساحه ۳: د اوسېدو هوسا سیمې



د تولید په برخه کې په محدوده اندازه خصوصي پانګونې سره، په افغانستان کې ښاري اقتصادي فعالیتونه تر ډېره بریده د سوداګری، خدماتو (د ټرانسپورټ په ګډون) او ساختماني کارونو پر محور راڅرخي چې ډېره برخه یې د بهرنیو پوځیانو او مرستندویه موسساتو لخوا ترلاسه کېږي.[۳۴] اټکل دا دی چې د بهرنیو ځواکونو کمېدل به پر ښاري اقتصاد ژور اغېز وښندي. ډېر زیات هغو کورنیو ته رسېږي چې خپل معیشت یې پر ورځنۍ مزد برابر کړی دی[۳۵] او دا د دې لامل کېږي چې د ښاري نفوس درېیمه برخه چې اوس‌مهال په فقر کې ژوند کوي، د ښاري ژوند د ورځ تر بلې زیاتېدونکو لګښتونو پوره کولو لپاره هڅې کوي او د خدماتو، روغتیایي پالنو او ښوونې او روزنې د لګښتونو د ورکړې توان نه لري، زیانمن شي. تر هغو چې د پانګونې بدیلې منابع پیدا کېږي دا وېره شته چې په افغانستان کې په ښارونو کې مېشتېدل به هغه پایلې له ځانه سره ونه لري چې په نورو ټولو هېوادونو کې یې درلودې.

په ډېر کم لیدلوري سره، په خدماتو او زیربناوو کې د پانګونې د پام وړ زیاتوالي سره، په لګښتونو کې د ګټه پورته کوونکو د ونډې زیاتوالي به ضروري/اړین وي. په افغانستان کې د اوبو او برښنا «سوداګریز کول»[۳۶] تر یوه بریده د دې لامل شوي چې لګښتونه راټول کړی شي؛ خو تر هغه مهال چې دوی د دوام وړ سوداګریزو تعرفو پر وضع کېدو بریالي شي؛[۳۷] کړنې او فعالیت

۳۳. هیلې دي چې په کابل کې تر ۲۰۵۰ زیږدیز کال پورې د اوبو غوښتنه شپږ برابره زیاته شي. USGS ۲۰۱۰ زېږدیز.
۳۴. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (۲۰۱۵ زېږدي) د افغانستان د ښارونو وضعیت، ۲۰۱۵ زېږدي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت: کابل.
۳۵. د نړیوال بانک د اټکل له مخې په ۲۰۱۲ کال کې ښاري کاري ځواک ٦٤ سلنه ته ورسیږي.
۳۶. د مثال په توګه، د افغانستان د ښاري اوبو رسولو او کانالیزاسیون شرکت او د افغانستان بریښنا شرکت.



به یې ناپایداره وي. تر دې دمه د خدماتو په برخه کې د خصوصي سکټور پانګه اچونه ناچیزه ده.

د عوایدو زیاتوالي په هدف د یو شمېر ازمایښتي فعالیتونو له لارې چې د غیر رسمي ملکیتونو د انتظام پر بنسټ (او له دې امله د مالیاتو وضع کېدل) ډلبندي شوي،[۳۸] د پام وړ پرمختګونه شوي دي. دغه عواید ښاروالیو ته دا توان وربښي څو په عامه خدماتو او زیربناوو کې پانګونه وکړي او که نورو ټولو ښاروالیو ته تکثیر شي د انکشاف تلپاتې ډول ته د لاسرسي امکان او په ورته وخت کې د ښاري خلکو او سیمه اییز حکومت ترمنځ باور زیاتوي. په ښارونو او ښارګوټو کې د اقتصادي ودې تګلارو عملي کېدو سره چې په هغو کې د دست فروشانو، سوداګرو، یا ښځو پورې اړوندو کوچنیو شرکتونو په ګډون د غیر رسمي اقتصاد له ښکېلو غاړو د ملاتړ امتحاني پروژې عملي کېږي، له لارې باور رامنځته کېدای شي.

د افغانستان اقتصادي ودې لپاره ښوونه او روزنه حیاتي ارزښت لري. په داسې حال کې چې رسمي تعلیماتو ته لاسرسی ښه شوی؛ لا هم ډېر ځوانان کله چې له ښوونځي څخه فارغېږي د ښه کار لپاره چمتو نه دي. ډېر خلک د ژوند برابرولو په هدف سوداګری، خدماتو یا هم ساختماني سکټور پورې تړلي دي چې دغو مهارتونو ته د چمتووالي په هدف تخنیکي زده‌کړه کولای شي د کار پیدا کولو په برخه کې د دوی په لیدلوري کې مثبت بدلون رامنځته کړي. د اقتصادي فرصتونو په څېر دغه زده کړې، د هغو اقداماتو له ډلې څخه شمېرل کېږي چې په ښاري چارو کې د افغان ځوانانو ونډه زیاتوي او د ښاري حکومتوالی د پیاوړتیا لامل کېږي. د ملګرو ملتونو هبیتات د «لا خوندي ښارونو» پلان چې موخه یې د ټولنیز انسجام ترویج او د ښاري تاوتریخوالو کمښت دی؛ دا ډول اقداماتو ته ارزښتمنه سرچینه/منبع شمېرل کېږي.
تر تمرکز لاندې ساحه ۳، د اقتصادي فعالیتونو پر مرکزونو د ښارونو او ښارګوټو بدلول چې تلپاتې کارموندنه برابروي او عمده ورتیاوو انکشاف شونی کوي (په ځانګړې توګه افغان ځوانانو ته) په لاندې ډول پیشبیني شوی دی:

- د سیمه اییزو خدماتو وړاندې کولو لپاره د ښاروالیو پایداره مالي تقویت؛
- د اوسېدو په ځایونو کې د اقتصادي فعالیتونو زیات والی او کارموندنه؛ د غیررسمي اقتصاد په ګډون؛ او
- د هغو مهارتونو پراختیا لپاره د افغان ځوانانو د فرصتونو ښه والی چې دوی ته دا ورتیا ببښي څو په اقتصادي فعالیتونو کې ګډون وکړي او ګټه ترې پورته کړي.

۳۷. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (۲۰۱۵ زېږدي) د افغانستان د ښارونو وضعیت، ۲۰۱۵ زېږدي. د افغانستان اسلامي جمهوري دولت: کابل.
۳۸. د ملګرو ملتونو هبیتات په لښکرګاه، کندهار، هرات، مزارشریف او جلال آباد کې؛ UNDP ( ASGP ؛ USAID) LARA / RAMP- UP له خوا ملاتړ ) او داسې نور...

## تر تمرکز لاندې ساحه ۱: له یوه ښه مدیریت سره د استوګنې پلان شوې سیمې

| د پام وړ پایله: د اوسېدو د سیمو د انکشاف لپاره د حکومت ظرفیت د پالیسیو په طرحې او عملي کولو کې په متوازن، مساویانه او حساب ورکوونکي شکل برابر شوی او په ورته وخت کې لومړنیو خدماتو ته د لاسرسي برخه پورته تللې. | | |
|---|---|---|
| **پایله** | **د داخلېدو اصلي سیمه** | **اصلي ګډونکي** |
| ۱-۱ د مېشتېدلو د یوې ښې پالیسۍ او چوکاټ رامنځته کول چې د یوې حکومتولۍ او همدارنګه د ځمکو د مناسب مدیریت سبب ګرځي. | • د یوه ملي ښاري انکشافي برنامې او عملیاتي پلان څخه ملاتړ چې په هغې د قانون جوړونې لپاره لومړیتوبونه، پر پالیسیو بیا کتنه، د تشکیلاتو اصلاحات او پلټنې سیستم شامل دی.<br>• د ځمکو او ښاري اوسېدو ځای لپاره د یوه ملي او انکشافي پالیسۍ او پلان څخه ملاتړ<br>• د هغو لارو څخه ملاتړ چې ښاري ځمکو ته یې لاسرسی اسان کړی دی او د ځمکو د خپلولو حق یې هغه ډول برابر کړی چې ځمکو ته د لاسرسي په قانون کې یې یادونه شوې. د HLP په کاري ګروپ کې ګډون<br>• له هغو پلانونو ملاتړ چې د عملیاتي لار ښوونکي په توګه پاتې کېږي. | د کور او ښار جوړولو وزارت، د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره، د کابل ښاروالي، ښاروالان د ښاروالۍ مشورتي کمېټې، د ځمکو خپلواکه اداره، ستره محکمه، د ولسي جرګې وکیلان، اکاډمیکه ټولنه، مدني ټولنه، رسنۍ او د ملګرو ملتونو اداري. |
| ۲-۱ په ولایاتو او مرکز کې د دولتي ټولنو تقویه کول چې د ښو او موثرو خدماتو د وړاندې کولو لامل شي. | • په مرکز کې د کاري ظرفیتونو د انکشاف په برخه کې له چارواکو ملاتړ، په ځانګړي ډول د کور او ښار جوړونې وزارت او د سیمه ایيزو ارګانونو خپلواکې اداري/ د ښاروالیو له معینیت.<br>• د ښاروالیو او هغو اړندو ادارو لپاره چې په ښاري برخه کې خدمت کوي د تخنیکي اسانتیاووبرابرول<br>• د ښاروالیو د مشورتي کمېټو، د سیمه ایيزو شوراګانو او ناحیو د ونډې لپاره اسانتیاوې او په پالیسیو او د حکومتولی په سیستمونو بیا کتنه.<br>• د ښاري مدیریتونو د بدلون ملاتړ/ د سیمې د خلکو په مرسته د ښاروالۍ او ښاري ملي برنامو ملاتړ. | د کور او ښار جوړونې وزارت، د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره، د کابل ښاروالي، ښاروالان د ښاروالی مشورتي کمېټې، د ولسي جرګې وکیلان، مدني ټولنه، رسنۍ او د کورنیو چارو وزارت |
| ۳-۱ د اوسېدو د سیمو د پالیسو، پلانونو او مدیریت لپاره معلوماتو ته د لاسرسي او ترې د ګټې د پورته کولو ملاتړ | • د افغانستان د ټولو ښاري سیمو او ټولو ښاروالیو په باره کې د معلوماتو او ارقامو له ډېروالي ملاتړ.<br>• د یوه پلا ټ فورم په شکل د افغانستان د ښاري سازمان جوړښت، د ارقامو راټولول او تحلیل او همدارنګه د کور اړوند مسایلو تحقیق، ترویج او روښانول.<br>• د سیمه ایيزو اورګانو/د ښاروالی معینیت، ښاروالۍ او د ښاري انکشاف وزارت په ادارو کې د معلوماتو د راټولولو، تحلیل او پلان لپاره د ظرفیتونو له لوړوالي ملاتړ.<br>• په ښاري نظارت کې د مدني ټولنو او د سیمې د خلکو تقویت. | د کور او ښار جوړولو وزارت، د سیمه ایيزو اورګانونو خپلواکه اداره، د کابل ښاروالي، نړیوال بانک، څېړنیزې ټولنې، مدني ټولنه او د ملګرو ملتونو اداري |

## تر تمرکز لاندې ساحه ۲: د استوګنې پراخه سیمې

**د پام وړ پایله: د سیمې د استوګنځایونو لپاره ارزانه ځمکو او استوګنځایونو ته لاسرسی او د لومړنیو زیربنایي خدماتو پراختیا**

| پایله | د داخلېدو اصلي سیمه | اصلي ګډونکي |
|---|---|---|
| ۱-۲ د سیمې استوګنځایونو ته د خدماتو لوړېدل، زیربناوې او د عامه سهولتونو پراختیا. | • د افغانستان د اسلامي دولت د ملي پیوستون پروګرام له بشپړتیا ملاتړ او همدارنګه د ښاري منشور رامنځته کول.<br>• د سیمې د هغو استوګنځایونو لپاره چې زیانمن وي د تخنیکي مساعدتونو او اړوندو دولتي خدماتي ادارو سره اړیکي او د خدماتو وړاندې کول.<br>• د سیمې په استوګنځایونو کې د عامه ذهنیت د پراختیا په برخه کې د امنیت او مصوونیت فضا رامنځته کول.<br>• په ښارونو، ښارګوټو او ښاري سیمو کې د لویو زیربنایي پروژو چې دولت یې عملي کوي او عملي کوونکیو ادارو ملاتړ. | د کور او ښار جوړولو وزارت، د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکه اداره، د کابل ښاروالي، د سیمې انکشافي شورا، د ښاروالی مشورتي کمېټې، مدني ټولنه او خصوصي سکټور |
| ۲-۲ د استوګنځایونو د سیمه اییز مدیریت او پراختیا په برخه کې د حکومت له خوا د خلکو په ګډون د یوه منظم سیستم رامنځته کول. | • د دولت لپاره د تخنیکي مساعدتونو رامنځته کول، د دې لپاره چې د خلکو په مرسته ښاري پراختیا رامنځته او په یوه ملي پروګرام یې بدل کړي.<br>• د ملي او سیمه اییزي حکومتولی لپاره د مېرمنو له پریکړو او ونډې ملاتړ.<br>• د سیمې د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره د حکومت د پروژو د عملي کېدو نه ملاتړ چې د خلکو په ځانګړې توګه د ځوانانو په مدني ژوند کې بدلون راولي.<br>• د سیمه اییزو اورګانونوخپلواکي اداري/ د ښاروالیو معینیت، کابل ښاروالی، مدني ټولنو او د ځوانانو له ټولنو د ظرفیت پورته کولو ملاتړ. | د کور او ښار جوړولو وزارت، د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره، ښاروالان او د ښاروالیو مشورتي کمېټې، دولتي چارواکي، د سیمې انکشافي شوراګانې، مدني ټولنې، د ملګرو ملتونو اداري او د کورنیو چارو وزارت |
| ۳-۲ د غریبو او هغو کورنیو چې ګټونکي یې مېرمنې وي د بې ځایه شویو او بېرته راستنېدونکیو په ګډون ځمکو، امن او مطمین استوګنځایونو ته په پوره او ارزانه بیه د لاسرسي پراختیا. | • د هغو سیمو څخه ملاتړ چې محرومه پاتې او یا هم یوې غاړې ته تللي، څو بېرته منظمې او چاپیریالي خطراتو وژغورل شي.<br>• په ښاري سیمو کې د کورني بې ځایه شویو او یا هم بېرته راستنېدونکیو لپاره مرسته او د استوګنې د ځایونو برابرول.<br>• په ښاري سیمو کې استوګنځایونو ته د اسانه لاسرسي او د کرایو د ارزانه کېدو له اقداماتو ملاتړ.<br>• د کور او ښار جوړولو وزارت، د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکې اداري/ د ښاوالیو معینیت او کابل ښاروالی کې د ظرفیتونو د لوړوالي ملاتړ. | د کور او ښار جوړولو وزارت، د سیمه اییزو اورګانونو خپلواکه اداره، |

## تر تمرکز لاندې ساحه ۳: د اوسیدو ارامه سیمې

**د پام وړ پایله: ښاروونه او ښارګوټي د اقتصادي فعالیتونو مرکزونه دي چې دوامداره کاري زمینې برابروي د بشري پانګې انکشاف په ځانګړې توګه د افغانستان ځوانانو لپاره مساعدوي.**

| پایله | د داخلیدو اصلي سیمه | اصلي ګډونکونکي |
|---|---|---|
| ۳-۱ د ښاروالیو دوامداره مالي تقویت | • د ښاروالیو عواید د یوه منظم پلان له مخې راټولېدل/ د ملکیتونو ثبت، نظر هغه استوګن ځایونو ته چې غیر رسمي وي.<br>• د عامه پوهاوي په برنامو کې ګډون، د دې لپاره چې د ښاروالی عواید زیات شي.<br>• د سیمه ابیزو ارګانونو/ د ښاروالی معینیت او کابل ښاروالی دننه د ظرفیتونو له لوړوالي ملاتړ.<br>• د ښاروالیو په چارو کې د اصلاح لپاره د دولت له کړنو ملاتړ. | د سیمه ابیزو ارګانونو خپلواکه اداره، د کابل ښاروالي، د ښاروالیو مشورتي کمېټې، د مالیې وزارت، مدني ټولنې او رسنۍ |
| ۳-۲ د غیر رسمي اقتصادي پرمختیا په ګډون د استوګنې په سیمو کې د اقتصادي او کاري بوختیاوو زیاتوالی. | • د هیواد په کچه د اقتصادي پراختیا لپاره د یوې لارې رامنځته کول چې له مخې یې د ښاري لېږد رالېږد لپاره ګام پورته شي.<br>• د غیر رسمي اقتصاد له ازمایښتي پروژو ملاتړ، په شمول د لاسي پلورونکیو/ د ښځو اړوند وړو سوداګریزو شرکتونو او کورنیو تولیداتو.<br>• د ښاري یووالي او ښاري تاوتریخوالي د کمولو لپاره د ملګرو ملتونو د هبیتات له مصوونو ښاري تجربو ګټه پورته کول<br>• د سیمه ابیزو اورګانونو/ د ښاوالیو له معینیت او کابل ښاروالی د ظرفیتونو له پراختیا ملاتړ. | د سیمه‌ییزو اورګانونو خپلواکه اداره، د کابل ښاروالي، د ښځو چارو وزارت، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د ښاروالیو مشورتي کمېټې، د سیمې انکشافي شوراګانې، نړیوال بانک، مدني ټولنې او خصوصي سکټور |
| ۳-۳ د افغانستان د ځوانانو لپاره د فرصتونو بنیادي کول او د هغوی له مهارتونو ګټه پورته کول چې وکولای شي په اقتصادي پرمختیا کې مرسته وکړي او له هغې ګټه واخلي. | • د استوګنځیو پورې له اړوند د رغونې له تخنیکونو، لومړنیو خدماتو، د ساختماني موادو له تولید او نورو ښوونیزو فعالیتونو رامنځته کول.<br>• د مهارتونو د پرمختیایي برنامو پراختیا، په ځانګړې ډول د ټولنې د محرومو ځوانانو لپاره.<br>• د استوګنځیو د سیمه ابیز مدیریت، د تنظیم مسلو په برخه کې ځوانانو د عامه پوهاوي لپاره د انټرنیټي، ټیلفوني او نورو کمپاینونه. | د سیمه ابیزو اورګانونو خپلواکه اداره، د ښاروالیو مشورتي کمېټې، د سیمې انکشافي شوراګانې، د پوهنې وزارت، د مدني ټولنو غړي، د کار او ټولنیزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |

افغانستان

# ګړنلاره

## د ګړنلارې عملي کول او ګډون

د ملګرو ملتونو هبیتات له خپلو دولتي ګډونوالو سره تخنیکي مساعدتونه رامنځته کوي او همدرانګه په مستقیم ډول د مشخصو  برنامو له عملي کولو، د بېلګې په ډول(( ملي پیوستون پروګرام)) ملاتړ کوي. له دې سربېره په هېواد کې د ملګرو ملتونو هبیتات د سیمې د اوسېدونکو ، غیر دولتي موسساتو، مدني ټولنو او خصوصي سکټور لپاره رغوونکي اړیکې منځته راوړې دي.

په خپل دې کار کې خپله د ملګرو ملتونو هبیتات توانېدلی چې د مرکزي دفتر او سیمه ابیز مرکزونو لکه د اسیا او پسفک دفترونو له متخصصینو له کادرونو څخه د جاپان په فوکوکا کې ګټه پورته کړې او له سیمې سره نږدې اړیکې جوړې کړي. په افغانستان کې اوسمهال همکارۍ اداري عبارت دي له:

| همکاران | اداري | د همکارۍ ډول |
|---|---|---|
| د سیمه ابیزو اورګانونو خپلواکه اداره | د ښاروالیو معینیت | د ښې حکومتولی او مدیریت په برخه کې د تخنیکي مساعدتونو او د پرمختیایي ظرفیتونو او همدارنګه د ښاروالیو سټراټیژیک او پلان جوړونې سیسټم رامنځته کول. |
| د کور او ښار جوړولو وزارت | د وزارت د پالیسي او پلان ریاست | د ښاري ملي لومړیتونو (U-NPP) په برخه کې د تخنیکي مساعدتونون، پالیسو او پلانونو رامنځته کول. |
| د کلي او بیارغونې وزارت | د ملي پیوستون پروګرام(د بامیان، بلخ، فراه، هرات، کاپیسا، ننګرهار، پروان، پنجشیر او کندهار سیمه ابیزې پرمختیایي شوراګانې | په بیارغونه کې د ګډونوالو دخالت/د نهو ولایتونو په ۴۷ولسوالیو کې د سیمو پراختیا. |
| کابل ښاروالي | ښاري پروګرام | په ښاري مدیریتونو کې د تخینکي مساعدتونو او د سیمو د پراختیا رامنځته کول. |
| د کندهار، هرات، مزارشریف، جلال اباد، بامیان، کندوز، فراه او نیلي ښاروالی | برنامه های شهری | د ښاري مدیریتونو او حکومتولی لپاره د تخنیکي مساعدتونو او د ظرفیتونو پراختیا او د ښاروالیو له مشورتي بورډونو ملاتړ. |
| د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره | ښاري پروګرام | د ځمکو ثبتول او د امنیت رامنځته کول |

سربېره پردې د ملګرو ملتونو هبیتات به د ملګرو ملتونو له اړوندو نورو ادارو سره دوام ورکړي:

- UNDP په ولایتونو کې د کاري ظرفیتونو په لوړوالی او د پالیسی او قانون جوړونې په برخه کې.
- UNHCR د کډوالو او بېځایه شویو د بېرته ځای پر ځای کېدو په برخه کې.
- UNEP د چاپیریال ساتنې په مسایلو کې
- UNICEF اوبو ته د لاسرسي او د روغتیا ساتنې په برخه کې.
- UNESCO د لرغونو فرهنګي میراثونو د ساتنې په برخه کې
- UN-WOMEN د ښځو د حقونو او جنسي برابروالي (جنډر) په برخه کې.
- UNFPA د ځوانانو په برخه کې.

## بشري ځواک او تشکيلاتي جوړښت

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د هبيتات څانګه ځان د هېواد لوېې جغرافيې ته د لاسرسي په يوې ځواب ورکوونکې اداري بدلوي. د پروګرام ټوليز مديرت به د کابل له دفتره دوام لري. ساحوي دفترونه به د ملګرو ملتونو له سيمو سره تنظيم شي: غرب (د هرات ساحوي دفتر او فراه سيمه اييز دفتر)، شمال: (د مزار شريف ساحوي دفتر او د کندز سيمه اييز دفتر)، سوېل: (د کندهار ساحوي دفتر)، مرکزي سيمې: ( د باميان او نيلي سيمه اييز دفترونه) او په کاپيسا، پروان او پنجشير ولايتونه چې په کې د ملي پيوستونو پروګرام جريان لري د مرکزي ساحې (د کابل مرکزي دفتر) سره به تنظيم شي. د ملګرو ملتونو هبيتات به په افغانستان کې پر بشري ځواک پانګونې ته دوام ورکړي. څه د پاسه ۸۰۰ افغانان چې د پروګرام د رئيس او معاون تر مشرى لاندې په هېواد کې کار کوي د پروګرام د پيلي کېدو او تطبيق مسوولان ګمارل شوي دي. د ملګرو ملتونو هبيتات په هېواد کې د عنعنوي پياوړې رهبرى پروګرام پر مخ وړي، چې په کې به په شرايطو برابر مسلکي نارينه، ښځې او ځوانان د افغانانو له لوري مديريت او رهبري شي. په دې پروګرام کې به نړيوال د ملاتړو سلاکارانو په ډول مرسته وکړي. د ملګرو ملتونو هبيتات ۳۰% بشري ځواک ښځې جوړوي او په پام کې ده چې دغه شمېره به د دغې ستراتيژيکې دورې (۲۰۱۹ م) تر پايه ۵۰ سلنې ته لوړه شي.

## د سرچينو او مالي بسيج ستراتيژي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونوهبيتات له ۲۰۰۲ زکال را په دېخوا پرخپلو پراختيايي فعاليتونو ۲۰۰ ميليونه ډالره لګولي چې، په دې وروستيو کلونو کې دغه لګښت هر کال په منځنۍ کچه ۳۵ ميليونه ډالره وو. د ملګرو ملتونو هبيتات د ملي يووالي د حکومت له غوښتنې سره سم او د دوه اړخيزې حساب ورکونې پر بنسټ ژمن دی چې خپلو پراختيايي مرستو ته دوام ورکړي، نو د ملګرو ملتونو هبيتات به د تېرې لسيزې په شان د نوي ليد لوري او تګلارو په ازمويلو او د دولت د داخلي بوديجې له لوري د نويو او ابتکاري پروګرامونو پراختيا ته لکه (د ښاري امنيت او مصونيت پروګرام جوړونې او د ښاري څوانانو پروګرام جوړونې) ته ادامه ورکړي. د ملګرو ملتونو هبيتات هغو ښاري برنامو ته به دوام ورکوي، چې درې کاله پخوا يې په خپله د سيمې په ۳۰ سلنې ونډې پيل کړی و.

د ملګرو ملتونو د بشر ميشته کيدنى اداره (هبيتات) افغانستان سيمه اييز او ولايتى دفترونه




ختيځه سيمه
(غزنى، خوست، کنر، لغمان، ننګرهار، نورستان، پکتيا، پکتيکا)
مرکزى دفتر په جلال آباد
پروګرامونه: NSP, LIVE-UP, CLUIP, AUPP. MGSP

مرکزى سيمه
(باميان او دايکندى)
مرکزى دفتر په باميان
دفتر په نيلى کى (AUPP and MGSP)
پروګرامونه: NSP, MGSP, AUPP

شمالى سيمه
(بدخشان، بغلان، بلخ، فارياب، جوزجان، کندوز، سمنګان، سرپل، تخار)
مرکزى دفتر په مزار
دفتر په کندز کى (AUPP)
پروګرامونه: NSP, CLUIP, MGSP, AUPP

لويديځه سيمه
(بادغيس، فراه، غور، هرات)
مرکزى دفتر په مزار کى
دفتر په فراه کى (NSP, LIVE-UP, CLUIP, MGSP, AUPP)

سويلى سيمه
(هلمند، کندهار، نيمروز، ارزګان، زابل)
مرکزى دفتر په کندهار کى
AUPP, MGSP, LIVE-UP دفتر در کندوز
پروګرامونه: NSP, CLUIP, AUPP

کابل + مرکزى سيمه
(کاپيسا، لوګر، پنجشير، پروان، وردګ)
دفتر په چاريکار، محمود راقى او بازارک کى
پروګرامونه: NSP, FoAC, MGSP, AUPP



## د ملګرو ملتونو هبیتات ارزښتونه

د ملګرو ملتونو هبیتات د ملګرو ملتونو د اصلي ارزښتونو له ډلې څخه چې سموالی، حرفوي کار او نوښت ته احترام دی، په خپل ځان کې لري، خو په افغانستان کې سربېره پر دغو ارزښتونو هغه ارزښتونه چې د هېواد داخلي ټیم را منځته کړي دا دي:

- بې پرېتوب: زموږ د کارموخه د افغانستان له ټولو خلکو سره مرسته ده.
- سراسري والی: زموږ کار د خلکو د استازو او وزیرانو په ګډون له ټولو اړوندو کسانو سره د سلا مشورې پر بنسټ دی؛ نو موږ باید متوجه او خلکو ته په لاس رسي کې ووسو.
- حساب ورکونه: موږ د ټولو هغو کسانو پر وړاندې ځواب ویونکي یو چې هغوی ته مرستې برابرو.
- اغېزمنتیا: زموږ موخه له شته منابعو څخه پوره ګټه اخیستنه ده.
- پایښت: زموږ موخه دا ده، تر څو افغانان په خپله خپل هېواد مدیریت کړي او په پراختیایي چارو خپل لګښتونه پرې کړي.

## د ګواښونو مدیریت

په افغانستان کې د پراختیایي کارونو مدیریت له ځان سره ګواښونه لري. دغه ګواښونه ډېری د افغان او نړیوالو کارکونو پر وړاندې په هغو سیمو کې دي چې هلته امنیتي ګواښونه مخ په ډېرېدو دي. په داسې حال کې چې ویل کېدل په افغانستان کې به له ۲۰۱۵ زکال وروسته کله چې نړیوال ځواکونه له افغانستان څخه وځي نو نا امني به پراخه شي. د ملګرو ملتونو هبیتات کارکوونکي د اوړند امنیتي مسوول تر هدایت لاندې د UNDSS قانون تابع دي. نا امني د ملګرو ملتونو هبیتات فعالیت ته منفي عملیاتي او تشکیلاتي پایله لري. زموږ کارکوونکو او همکارانو او همدا راز د افغانستان د دولتي چارواکو او یا د سیمې خلکو ته د لاسرسی او جوړجاړي محدودیت د پروژو پر پلي کېدو په ځانګړي توګه په هغو سیمو کې چې له ساحوي فعالیتونو څارنې او د شمېرو را ټولو ته اړتیا وي اغېز لري. موږ پر خپلو معیارونوله کومې معاملې پرته افغان منځګړي ښکېلو تر څو لاسرسی او جوړجاړی دوام وکړي. هڅه به وشي له سیاسي ستونزو سره سره چې ښایي له ملکي مامورینو سره وي، له همکارانو سره په ځانګړي توګه د پالیسیو او اصلاحاتو په برخه کې جوړجاړی دوام وکړي.

## د څارنې او ارزونې چوکاټ (چهارچوب)

د ملګرو ملتونو هبیتات د اغېزمنتیا لپاره په ټول هېواد کې له ښاري پراختیاوو او نمونو څخه څارنه اړینه ده.

د افغانستان د ښارونو د څار اساسي پلاټ فورم ددې څار لپاره شاید تر ګردو غوره وي، په دې کې به مختلف کسان او ونډوال دخیل وي او د فعالیت لپاره به سرچینه رامنځته کوي، پلان به جوړوي او د ظرفیتونو د لوړولو په برخه کې به کار کوي.

د افغانستان د ښارونو څار په برخه کې به له نظارتي موجود سیستم څخه کار اخلي، چې په دې کې به د احصایې پروګرام په ګډون(له غړو هېوادونو او ښارونو څخه شمېرې راټولوي)، د ښاري شاخص پروګرام (چې په منظم ډول به له ۲۰۰ ښارونو څخه شاخصونه راټولوي)، هغه پروګرام چې د غوره طریقې په مټ یې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه ۶۰۰ ښاري قضیې توحید کړې، استفاده وشي. سربېره پر دې، د انکشافي اهدافو په برخه کې پرمختګ او د عمده شاخصونو له لارې د دایمي موخو پرمختګ: ۱. د وګړو د سلنې لاس رسی حفظ الصحې ته. ۲. د خلکو د سلنې لاس رسی پاکو اوبو ته. ۳. د خلکو د سلنې د خوندي ژوند تعقیب.

# اختصارات

| | |
|---|---|
| ADB | د اسیا پراختیایي بانک |
| ANDMA | د افغانستان د پېښو سره د مبارزې عالي اداره |
| ANDS | د افغانستان د ملي پرمختګ ستراتیژي |
| ARAZI | د افغانستان د ځمکو خپلواکه اداره |
| AREU | دافغانستان د څېړنې او ارزونې اداره |
| ARTF | د افغانستان د بیا ر غونې مالي وجه |
| ASGP | په افغانستان کې د ولایتي حکومتداری پروګرام |
| AUPP | د افغانستان د ښاري سولې پروګرام |
| AUWSSC | د افغانستان د اوبو رسونې او کاناليزاسيون لوی شرکت |
| CAP | ځايي عملياتي پلان |
| CBMSP | د سيمې د خلکو په ګډون د ښاري ملاتړ پروګرام |
| CDC | د کلیو پراختیایي شورا |
| CLUIP | د سيمې د خلکو په مشرۍ د ښاري زيربنا پروګرام |
| CSO | د احصایې مرکزي اداره |
| DMM | د ښاروالیو چارو معینیت |
| EU | اروپايي ټولنه |
| EoJ | د جاپان سفارت |
| GA | د ناحيې شورا |
| GoIRA | د افغانستان اسلامي جمهوري دولت |
| IDLG | دسیمه ایيز ارګانونو خپلواکه اداره |
| IDP | کورني بېځایه شوي |
| JICA | د جاپان د نړیوالې همکارۍ اداره |
| KCI | د کابل ښار نوښت |
| KM | د کابل ښاروالي |
| KMAUD | د کابل پلازمنې ساحوي ښاري ماسترپلان |
| KSP | د کابل د پیوستون پروګرام |
| LIVE-UP | د افغانستان د زيانمنو او محرومو خلکو يو ځای کېدل |
| MAB | د ښاروالۍ مشورتي بورډ |
| MDG | اهداف انکشافی هزاره |
| MGSP | له ښاري حکومتولۍ نه د ملاتړ اداره |
| MoE | دپوهنې وزارت |
| MoF | د مالیې وزارت |
| MoI | د کورنیو چارو وزارت |
| MoICY | د اطلاعاتو،فرهنګ او ځوانانو وزارت |
| MoLSAMD | د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزارت |
| MoRR | د کډوالو او بیرته راستنیدونکو چارو وزارت |
| MoWA | د ښځو چارو وزارت |
| MUDA | د ښاري پراختيا وزارت |
| MP | د پارلمان غړي |
| MRRD | د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت |
| NEPA | د چاپیریال ساتنې ملي اداره |
| NSP | د ملي پیوستون پروګرام |
| RAMP-UP | د ښاري وګړو لپاره د افغانستان د سيمه ايزو ښاروالیو پروګرام |
| SDC | د پراختيا او همکارۍ لپاره د سويس اداره |
| SMCD | د ښاروالۍ او د ټولنې د خلکو د پياوړتيا اداره (لشکرګاه) |
| SoAC | د افغانستان د ښاري وضعيت پروګرام ۲۰۱۵/۲۰۱۵ |
| UNHCR | د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمیشنرۍ |
| UNICEF | د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د ملاتړ صندوق |
| UNDP | د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام |
| UN-Habitat | د ملګرو ملتونو د بشر د میشته کیدنی اداره (هبیتات) |
| U-NPP | د ښاري لومړيتوبونو ملي پروګرام |
| USAID | د متحده ایالاتو د نړیوالې پراختیا اداره |
| USP | د ښاري پيوستون پروګرام |
| USS | د متحده ایالاتو جیولوژیکي سروې |
| WB | نړیوال بانک |

افغانستان

# مأخذونه

AKTC, 2011. Kabul Urbanisation and Development Challenges: a Synthesis Report, Kabul
Beall, J & Esser, D., 2005. Shaping urban futures: Challenges to governing and managing Afghan Cities, AREU, Kabul
Beall, J. & Schutte, S., 2006. Urban livelihoods in Afghanistan, AREU, Kabul
Bertaud, A. 2005. Kabul urban development: current city structure, spatial issues, recommendations on urban planning, World Bank
Boex, J., Buencamino, G., Kimble, D., 2011. Assessment of Afghanistan's Municipal Governance Framework, Chemonics/IDG Working Paper
Coats, K., 2009. Role of Citizen Involvement in Afghanistan's Municipal Governance Reform, Johns Hopkins/SAIS
DfID/UN-Habitat, June 2013. Improving Local Governance: Report on the sustainability of the Strengthening Municipal and Community Development Project in Lashkargah, Helmand
Esser, D., 2009. Who governs Kabul? Explaining urban politics in a post-war capital, LSE, London
Gebremedhin, Y., 2005. Preliminary assessment of informal settlements in Kabul, LTERA, Kabul
Giovacchini, T., 2011. Governance and Representation in the Afghan Urban Transition, AREU, Kabul
Government of Afghanistan/UNDP, 2007. Afghanistan Human Development Report 2007, Kabul
Government of Afghanistan, ANDS/MUDA, 2007. Urban Sector Strategy
Government of Afghanistan, MUDA, 2007. Research on Housing Situation, Kabul
Government of Afghanistan, MAIL, 1385/2007. Draft Land Policy, Kabul
Government of Afghanistan, Central Statistics Office, 2008. National Risk and Vulnerability Assessment, Kabul
Government of Afghanistan, IDLG, 2010.Sub-National Governance Policy, Kabul
Government of Afghanistan, Ministry of Economy, 2010. Poverty Status in Afghanistan, Kabul
Government of Afghanistan, JICA/KM/MUDA/DCDA, May 2011. Kabul City Current Status Report for Urban Development; Promotion of Metropolitan Area Development: Capacity Development Project, Kabul
Government of Afghanistan, 2011. Transition Strategy for Urban Development, Kabul
Government of Afghanistan IDLG, 2012. National Priority Programme for Local Governance, Kabul
Government of Afghanistan IDLG, June 2012. Urban Management Support Programme Document, Kabul
Government of Afghanistan IDLG and MRRD, May 2014. Policy for Improving Governance and Development in Districts and Villages, Kabul
Government of Afghanistan, MUDA 2012. National Priority Programme 4: Urban Planning Technical Assistance Facility, Kabul
Government of Afghanistan, 2015, The State of Afghan Cities 2015. GoIRA: Kabul
LaGeS (Florence)/University of Herat, 2013.Herat Strategic Master Plan
Palau, R., 2013. Rapid Urbanization and Displacement: The case of Kabul City, CMFC, Kabul
LARA/USAID, March 2013.Land Reform in Afghanistan; Jalalabad City Profile, Kabul
UNDP, 2012. Draft Strategy Paper; Sustainable Urbanization and Poverty Reduction in Asia Pacific
UN-Habitat, 2012. Achieving Development and Security: GDSP: the case of Kandahar, Kabul
UN-Habitat, 2012. Urban Solidarity: Institutionalizing the People's Process, Kabul
UN-Habitat, 2012. Kabul Solidarity Programme: Community Mobilization and Engagement, Kabul
UN-Habitat (internal document), May 2013.Urban/Municipal Development background, Kabul
UN-Habitat (internal document), April 2013.Going forward while looking back: Strategic Inputs to NSP Future, Kabul
UN-Habitat (internal document), August 2013.Retreat Report, Kabul
UN-Habitat, 2013. Urbanization as a Driver for Sustainable Development, Urban Visions 1, Nairobi
UN-Habitat, 2013. Sustainable Urbanization: A New Vision, Urban Visions 1, Nairobi
UN-Habitat, 2013. Time to Think Urban, Nairobi
UN-Habitat (internal document), September 2013.Expected Results of the Strategic Plan, Nairobi
UNHCRC, March 2012. Human Rights Dimension to Poverty in Afghanistan, Kabul
Wiley, L., 2003. Land Rights in Crisis; restoring tenure security in Afghanistan, AREU, Kabul
World Bank, April 2013. Afghanistan Economic Update
World Bank, March 2013. Country Update: Afghanistan
World Bank, 2012. Afghanistan in Transition: Looking beyond 2014